مصطفی پسرلی ۲۰۱۹/۰۳/۱۸

# د ژوند نغمه

بې کـچـه مـینه سـباوون کې وینم

خواږه رنګونه په ژوندون کې وینم

د یـار د زنـې شـنه خالـونه ستایم

د تــورو زلـفو یــې تـالـونه ستایم

زه محبت د ځان بـدلـون کې وینم

خواږه رنګونه په ژوندون کې وینم

شړنګ د پـاولـو لـېـونی کړمه زه

د مړوند خوب دې سپېلنی کړمه زه

د زړه تسل په دې تړون کې وینم

خواږه رنګونه په ژوندون کې وینم

لکه طوفان چې په دریاب عذاب وي

داسې بې مینې ژوند عذاب، عذاب وي

بقـا د ژونـد لار د سمون کې وینم

خواږه رنګونه په ژوندون کې وینم

شرنګ و شوخي نزاکتونه غواړم

ډک له شرابو نـه جامـونه غواړم

اضطرابي حد، په سکون کې وینم

خوارہ رنګونه په ژوندون کې وینم

یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی د «آرشیف» فهرست ته، لار ښودنه تر لاسه کړی!

د ژوند نــغــمــه

Mostafa_p_de_jowand_naghma.pdf